# ماته يو داسې عمل را وښيه چې که زه يې وکړم جنت ته به داخل شم، هغه ورته وفرمايل: «چې د الله تعالی عبادت وکړې او له هغه سره څوک شريک نه کړې، فرض لمونځ ادا کړې، فرض زکات ورکړې او د رمضان (مياشت) روژه ونيسې

له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو اعرابی (اطرافی سړی) راغی او ورته يې وويل: ماته يو داسې عمل را وښيه چې که زه يې وکړم جنت ته به داخل شم، هغه ورته وفرمايل: «چې د الله تعالی عبادت وکړې او له هغه سره څوک شريک نه کړې، فرض لمونځ ادا کړې، فرض زکات ورکړې او د رمضان (مياشت) روژه ونيسې»، هغه وويل: قسم په هغه ذات چې زما روح يې په لاس کې دی، له دې څخه به يې زيات نه کړم، نو کله چې ولاړ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «که څوک غواړي چې له جنتيانو څخه يو سړي ته وګوري، نو دې ته دې وګوري».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

له باندې څخه يو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی تر څو داسې يو عمل وروښيي چې جنت ته يې داخل کړي، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم په ځواب کې ورته وويل چې جنت ته داخلېدل او له جهنم څخه ژغورل کېدل د اسلام د ارکانو په عملي کولو پورې اړه لري، يوازې د يو الله تعالی له عبادت څخه او دا چې شرک ورسره ونه کړې. او دا چې په هره شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ وکړې چې الله تعالی درباندې فرض کړي دي. او د مال زکات ورکړې چې الله تعالی درباندې فرض کړی دی او اړمنو خلکو ته يې ورکړې. او دا چې په خپل وخت کې د رمضان مياشتې روژې ونيسې. سړي وويل: قسم په هغه ذات چې زما روح يې په لاس کې دی، هغه اطاعتونه مې چې له تا څخه واورېدل نه پرې څه ورزيات کړم او نه به ترې څه کم کړم. کله چې ولاړ، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: که څوک غواړي چې د جنتي انسان په لېدلو خوشحاله شي نو دغه بانډه چې ته دې وګوري.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3689

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee